# که چیرې تاسي خپل د غوښتنلیک د ثبت کارت (ARC) سره ستونزه لرئ نو باید څه وکړئ؟

اپریل 2010

Pashto

ستاسي د غوښتنلیک د ثبت کارت یا «ARC» مهم دی. دا کارت ځرګندوي چي تاسي د پناه غوښتني لپاره غوښتنلیک ورکړی دی او ستاسي شخصي تفصیلات او انځور لري. یوازي تاسي کولای شئ چي دا کارت استعمال کړئ. ستاسي ARC ستاسي پیژندنه ثابتوي او تاسي ته اجازه درکوي چي د کورنیو چارو د وزارت لخوا ورکړ شوي نقدي مرسته له ټاکل شوي پستي دفتر څخه ترلاسه کړئ.

دا پاڼکۍ ځرګندوي چي که چیرې ستاسي د ARC کارت کار نه کوي یا ورک شي یا غلا شي، نو څه وکړئ او دا چي موږ څنګه کولای شو له تاسي سره مرسته وکړو.

**کله چي زه غواړم خپله نقدي مرسته ترلاسه کړم او زما ARC په پسته خانه کي کار نه کوي نو زه باید څه وکړم؟**

که چیرې ستاسي د ARC کارت کار نه کوي، په هر دلیل چي وي، د پسته خاني له کارکوونکو څخه رسید ترلاسه کړئ او کوښښ وکړئ چي وروسته خپل کارت بیا استعمال کړئ. مهمه دا ده چي تاسي په پسته خانه کي دا غوښتنه وکړئ چي دوه ځله د خپل کارت د استعمالولو کوښښ وکړئ. تاسي کولای شئ چي وروسته په همدې ورځ او یا راتلونکي ورځ بیا کوښښ وکړئ. *که چیرې ستاسي کارت دوه ځله رد شي، دا اطمینان ترلاسه کړئ چي پسته خانه تاسو ته دوهم رسید هم درکړي.*

کله چي تاسي دواړه رسیدونه ترلاسه کړئ، تاسي کولای شئ چي هغه زموږ دفتر ته راوړئ او په هغه وخت کي موږ کولای شو چي ستاسي د ستونزي په اړه د کورنیو چارو وزارت ته راپور ورکولو کي مرسته وکړو. مهمه دا ده چي تاسي دواړه رسیدونه له ځان سره راوړئ، ځکه د کورنیو چارو وزارت دا ثبوت غواړي چي تاسي په دوو بیلابیلو وختونو کي دا کوښښ کړئ چي خپله نقدي مرسته ترلاسه کړئ او په هغه کي پاته راغلي یاست. مهرباني وکړئ او دا رسیدونه هر څومره ژر چي کیدای شي د اونۍ په پیل کي موږ ته راوړئ. *که چیرې تاسي د ستونزي راپور هغه وخت ورکړئ چي یوه اونۍ تیره شوي وي، د کورنیو چارو وزارت به د هغې اونۍ پیسي چي تاسي له لاسه ورکړي دي بیرته درنکړي.*

**که چیرې زما د ARC کارت ورک شي یا غلا شي نو زه باید څه وکړم؟**

که چیرې تاسي خپل د ARC کارت ورک کړئ یا کوم چا هغه پټ کړی وي، تاسي باېد مخکي له دې چي له موږ سره اړیکي ونیسي د هغه په اړه لومړی پولیسو ته راپور ورکړئ. تاسي باید د پولیسو راپور له لاندي معلومات سره ترلاسه کړئ:

- د جرم د ریفرینس شمیره چي د پولیسو د مرکز لخوا ورکړ شوي وي (که چیرې تاسي ته درکړ شوي وي)؛
- د هغه پولیس نوم او شمیره چي ستاسي راپور یي ثبت کړ؛ او
- د پولیسو د هغه مرکز نوم چیرې چي تاسي راپور ورکړی دی.

Scottish Refugee Council, 5 Cadogan Square, (170 Blythswood Court), Glasgow G2 7PH Tel: 0141 248 9799, Fax: 0141 243 2499,
www.scottishrefugeecouncil.org.uk
د سکاټلنډ د کډوالو کونسل په سکاټلنډ کي ثبت شوي یو خیریه اداره ده. د خیریه اداری
د ثبت شمیره: SC008639

د Strathclyde پولیسو سره په 0141 532 2000 شمیره اړیکي ونیسئ او هغوی به ستاسي سیمه ایز پولیس دروپیژني چې هغوی له تاسي سره په راپور ورکولو کي مرسته وکړي.

وروسته تاسي کولای شئ چې دا راپور زموږ دفتر ته راوړئ او موږ به له تاسي سره مرسته وکړو چې د خپل کارت د ورکیدلو یا غلا کیدلو په اړه د کورنیو چارو وزارت ته خبر ورکړئ. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د نوي ARC کارت ورکول کیدای شي څو اونی وخت ونیسئ. په هغه موده کي چې تاسي د نوي کارت لپاره انتظار کوئ، موږ کولای شو غوښتنه وکړو چې د کورنیو چارو وزارت تاسي ته د عاجل مرستي کوپونونه درولیږي. دا به ستاسي د کور په آدرس باندې د پستي کمپنۍ چې DX نومیږي، ورسول شي.

**که چیرې زه نشم کولای چې د خپل ARC په کارولو سره خپلې نقدي مرستې ته لاسرسي ولرم ځکه چې زه په روغتون کي یم، نو زه باید څه وکړم؟**

که چیرې تاسي په روغتون کي بستر شوي یاست او نشي کولای چې د پسته خاني دفتر ته ولاړ شئ چې د خپل ARC کارت په کارولو سره نقدي مرسته ترلاسه کړئ، نو که تولنیز کارکوونکی لرئ له هغه څخه پوښتنه وکړئ، او یا له نرس څخه وغواړئ چې له موږ سره اړیکي ونیسي، چې سمدلاسه د کورنیو چارو وزارت ته خبر ورکړو. مهمه دا ده چې تاسي دا کار هر څومره ژر چې کیدای شي وکړئ تر څو د کورنیو چارو وزارت ستاسي له وضعیت نه خبر وي. تاسي کولای شئ زموږ **وړیا ټیلیفون: 0800 085 6087** ته زنګ ووهئ او په وظیفه باندي موجود کارکوونکي سره خبري وکړئ. په یاد ولرئ چې زموږ له وړیا ټیلیفون سره یوازي د لیني ټیلیفونو له لاري اړیکي نیولی شئ.

که چیرې تاسي موږ ته خبر رانکړئ چې ستاسي د وضعیت د بدلون په اړه د کورنیو چارو وزارت ته خبر ورکړو، ستاسي مرسته کیدای شي ودرول شي؛ نقدي مرستي ملاتړ وروسته وخت ته معطله کیدای نشي چې بیا وروسته له هغه څخه استفاده وشي.

**زه غواړم چې د موټر چلولو موقت لایسنس ته درخواست وکړم. آیا زه کولای شم چې خپل ARC د پیژندني د ثبوت په توګه د موټر چلولو او موټر د لایسنس ورکولو اداري (DVLA) ته ورولیږم؟**

د موټر چلولو د موقت لایسنس د ترلاسه کولو لپاره خپل د ARC کارت د خپل غوښتنلیک د یوي برخي په توګه DVLA ته **مه** لیږئ. تاسي خپل د ARC کارت ته ضرورت لرئ چې هره اونی د پسته خاني له دفتر څخه خپله نقدي مرستي ملاتړ ترلاسه کړئ. له دي کارت پرته، تاسي نشئ کولای چې هیڅ ډول پیسي ترلاسه کړئ.

له 25 مارچ 2010 راهیسي، که چیرې تاسي په بریتانیه کي د پناه غوښتني لپاره درخواست کړی وي او تر اوسه پوري د پاتي کیدلو اجازه **مه** وي درکړی شوي، تاسي نور نشي کولای چې د بریتانیي د موټر چلولو لایسنس ته درخواست وکړئ.
د دولت په قوانینو کي اوسني بدلونونه په دي معنی دي چې یوازې هغه کسان چې **لږ تر لږ د 185 ورځو لپاره** په بریتانیه کي اوسیدلو څه ډول اجازه ورکړ شوي وي، دا وړتیا ولري چې د بریتانیي د موټر چلولو لایسنس ته درخواست ورکړي.

دا بدلون په هغو کسانو باندي اغیزه نه کوي کومو چې د 2010 کال د مارچ تر 25 نیټي مخکي د بریتانیي د موټر چلولو لایسنس ته درخواست ورکړی دی.

Scottish Refugee Council, 5 Cadogan Square, (170 Blythswood Court), Glasgow G2 7PH Tel: 0141 248 9799, Fax: 0141 243 2499,
www.scottishrefugeecouncil.org.uk
د سکاټلند د کډوالو کونسل په سکاټلند کي ثبت شوي یو خیریه اداره ده. د خیریه اداری
د ثبت شمیره: SC008639